د نېکو خلکو د کیسو لړۍ

شمېر: ۳۹

# وړې کوربه

Ketabton.com

لیکوال: سید ابو الحسن علي ندوي

ابو الحسن علي ندوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# وړی کوربه

لیکوال :سید ابوالحسن علي حسني ندوي

ژباړه :مولوي فضل الرحمن نیازی

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحیم

## مهاجر او انصار

نبي صلی الله علیه وسلم او د هغه اصحابو له مکې معظمې څخه یثرب ته هجرت وکړ او هلته استوګن شوۀ.

هغوی یثرب ته هجرت وکړ او خپل کورونه، مالونه او ورونه یې په مکه کې تر شا پرېښودل.

په یثرب کې یې مسلمانانو هرکلی وکړ ، دوی ته خوشال شوۀ او دوی ته یې ښه راغلاست ووېل.

د یثرب مسلمانانو په خپلو کورونو کې ځایونه ورکړل او په خپلو مالونو او شتمنیو کې یې واکمنان وګرځول ؛ نو ځکه الله تعالی او د هغه پیغمبر صلی الله علیه وسلم په انصارو سره ونومول.

انصارو مهاجرینو ته وویل:مونږ لۀ تاسې سره دغه مالونه او کورونه وېشو، نیم دې زمونږ وي او نیم دې د تاسو وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوی وویل :مونږ له تاسو سره خپلې مېرمنې هم وېشو ، مونږ به یوې مېرمنې ته طلاق ورکړو او تاسې یې په نکاح کړئ.

مهاجرینو وویل :الله تعالی دې تاسې ته په خپلو کورونو، ملکیتونو او مېرمنو کې برکت واچوي . مونږ ورته اړتیا نه لرو. خو تاسې مونږ ته بازار وښایئ چې سوداګري او کسب وکړو. هغوی همداسې وکړل ، بازار ته ولاړل پېر او پلور یې کاوهٔ .الله تعالی هغوی ډېر ژر شتمن کړل.

## د اسلام مېلمانهٔ

یثرب د پیغمبر صلی الله علیه وسلم ښار وګرځېده، یو چا به هم د مدینة الرسول او مدینې څخه پرته په بل نوم نه یاداوهٔ.

مدینه د اسلام ښار وګرځېده، په نړۍ کې د اسلام یوائینی ښار.

همدغه مدینه په نړۍ کې د مسلمانانو د هجرت ځای وو، چې کله به یو چا اسلام راووړ او خپل قوم به ځوراوه مدینې ته به یې هجرت وکړ او د خپل قوم له لومو اوچالونو څخه به خوندي شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مدینه داسلام مدرسه وه ، په نړۍ کې داسلا م یواځینۍ مدرسه.

کله به چې یو چا اسلام راووړ په هغه به لازم وو چې دین زده کړي، حلال او حرام زده کړي، او د اسلام احکام زده کړي.

او همدارنګه په هغه به لازمه وه چې قرآن او فرائض زده کړي او دا زده کړي چې لمونځ څنګه وکړي او روژه څنګه ونیسي.

د یو مسلمان لپاره به څنګه ممکنه وي چې له علم پرته لمونځ وکړي ، روژه ونیسي، او دالله تعالی عبادت وکړي .او همدارنګه د هغۀ لپاره به څنګه شونې وي چې له علم پرته ژوند وکړي.

خو کله چې وغواړي دین زده کړي چېرته لاړ شي؟ مکې ته؟ نه ! طائف ته؟ نه !هلته هیڅ څوک هم نشته چې دین ور زده کړي.

خو مدینه د اسلام مدرسه وه ، په نړۍ کې د اسلام یواځینۍ مدرسه، نو خامخا به یې د مدینې په لور مخه کوله.

نو مسلمانانو به د عربو له هرې سیمې څخه د مدینې په لور مخه کوله، ځیني به د دین لۀ وجې لۀ فتنو څخه تښتېدل او ځینو به غوښتل چې دین زده کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوی ټول د اسلام مېلمانه وو.

## د مېلمنو مېلمستیا

مسلمانان به پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته راتلل . پیغمبر صلی الله علیه وسلم به پرې خوښېده او هغوی ته به یې ښه راغلاست وېل.
هغوی د الله تعالی او د الله د پیغمبر صلی الله علیه وسلم مېلمانه او د اسلام مېلمانه وو.

پیغمبر صلی الله علیه وسلم به غوښتل چې د دوی عزت وکړي او خواړه ورکړي ځکه هغوی د الله، د الله د پیغمبر صلی الله علیه وسلم او د اسلام مېلمانه وو.

خو پیغمبر صلی الله علیه وسلم په دنیا کې زهد کونکی وو، کله به یې څۀ وخوړل او کله به وږی پاتي کېده .که څه به یې وخوړل شکر به یې ایستۀ او که وږی به پاتې شو صبر به یې کاوۀ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پيغمبر صلی الله علیه وسلم په کور کې به کله کله اور هم نه بلېده، او نه به ډوډۍ پخېدله .پيغمبر صلی الله علیه وسلم به نه خوښوله چې مېلمانه دې وږي پاتي شي په داسې حال کې چې هغوی د الله تعالی ، د هغه د پيغمبر او د اسلام مېلمانه وو.

پيغمبر صلی الله علیه وسلم فرمايلي دي :من کان يؤمن بالله واليوم الآخر فليکرم ضيفه.

ژباړه :څوک چې په الله تعالی او په وروستۍ ورځې ايمان لري نو د مېلمه عزت او اکرام دې وکړي.

مسلمانان په مدينه کې يوه کورنۍ وه، او مدينه يو کور وو.

چې کله به مېلمانه راغلل پيغمبر صلی الله علیه وسلم به په مسلمانانو تقسيم کړل، مسلمانانو به کورو ته بوتلل او د هغوی ميلمستيا به يې وکړه.

مېلمانه به د مسلمانانو کورو ته ولاړل هلته به يې خواړه وخوړل او شپه به يې تېره کړه دوی به داسې انګېرله لکه پۀ په يوۀ کور کې يې چې خواړه خوړلي وي او د يوه سړي مېلمانه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغوی به چې چېرته وو د الله او د الله د پیغمبر مېلمانهٔ به وو.

## ابو طلحه الأنصاري (رضي الله عنه)

ابوطلحه (رض) په انصارو کې داسې سړی وو چې له الله او د الله له پیغمبر صلی الله علیه وسلم سره مینه لرله او پیغمبر صلی الله علیه وسلم به له هغه سره مینه لرله.

د ابو طلحه یو باغ وو چې یخ سیوری او خوږې اوبه یې لرلې.

پیغمبر صلی الله علیه وسلم به کله کله هلته ورتهٔ په باغ کې به کېناستهٔ او یخې اوبه به یې ښبلې.

یوه ورځ پیغمبر علیه السلام د ابو طلحه باغ ته لاړ، له هغه سره ابوبکر صدیق (رض) هم وو .دوی دواړه په باغ کې کېناستل او اوبه یې وښبلې.

کله چې ابو طلحه راغی هغه د دوی په ورتګ باندې ډېر خوشحاله شو او ولاړ چې دوی ته یو پسه ذبحه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیغمبر علیه السلام ورته وویل : بچي راوړونکی او شیدي ورکونکی پسه مه ذبحه کوه . ابو طلحه پسه ذبحه کړ او هغوی ته یې پوخ کړ پیغمبر صلی الله علیه وسلم او ابوبکر صدیق خوراک او څښاک وکړ، د الله حمد یې ووېل او رسول علیه السلام د ابو طلحه لپاره دعا وکړه.

## د ابو طلحه په کور کې

یو ځل پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته مېلمانه راغلهٔ، هغهٔ په مسلمانانو ووېشل او هر یوه له مېلمنو څخه خپله برخه واخیستله، ابو طلحه هم له مېلمنو نه خپله برخه مېلمانه لهٔ ځان سره واخیستل.

ابو طلحه مېلمنو ته خوښ شو ځکه هغوی د الله ، د الله د پیغمبر او د اسلام مېلمانه وو.

ابو طلحه خوشحاله شو ځکه چې هغهٔ په دې کې د الله تعالی ، د الله د پیغمبر صلی الله علیه وسلم د رضا او د آخرت د ثواب هیله او امید درلود.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ابو طلحه خپل مېلمانه له ځان سره بوتلل، په داسې حال کې چې دی نه پوهېده چې په خپل کور کې د مېلمنو لپاره څه لري او که نه؟ ابو طلحه نه پوهېده چې أم سلیم به څه پاخه کړي وي؟

ابو طلحه نه پوهېده چې په کور کې به له خوړو څخه څه زیات شوي وي چې مېلمانه یې وخوري؟

همدارنګه ابو طلحه نه پوهېده چې ماشومانو به خپل خواړه خوړلي وي او ویده شوي به وي ، که د خوړو په انتظار به وي؟

ابو طلحه په دې اړه فکر ونه کړ او نه هم کومې خبرې منعه کړ.

ابو طلحه په خوښۍ او خوشحالۍ سره لار ووهله او مېلمانهٔ یې تر شا وو.

ابو طلحه دروازه وټکوله په خپلې کورنۍ یې سلام واچولو. السلام علیکم، آیا کور ته در ننوځم؟

د کور له لورې غږ وشو وعلیک السلام راننوځه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ابو طلحه کور ته ننووت او د زیري ورکونکي په غږ کې یې وویل له ما سره د پیغمبر صلی الله علیه وسلم مېلمانه دي.

ام سلیم د زیري اخیستونکي په غږ وویل د پیغمبر صلی الله علیه وسلم مېلمنو ته ښه راغلاست وایو.

ابو طلحه وویل :په کور کې د خوړلو لپاره څه شته؟

ام سُلَیم بې له ډار او وېرې وویل :یوائې د ماشومانو خواړه شته.

## د عزتمن حیله او چل

ابو طلحه څه وکړي خواړه خو د کورنۍ هم بس نه دي نو د مېلمنو به څنګه بسنه وکړي.

ابو طلحه فکر وکړ او یوې نازکې حیلې ته یې لاره وموندله .د کریم او عزتمن سړي حیلې زده وي.

ابو طلحه هوډ وکړ چې نن شپه به وږې تېروي او خواړه به مېلمنو ته ورکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ام سلیم هم هوډ وکړ چې نن شپه به وږې تېروي او خواړهٔ به مېلمنو ته ورکوي.

په هغوی به څه وشي چې یوه شپه وږې تېره کړي او خواړهٔ مېلمنو ته ورکړي .که هغوی یوه شپه وږې تېره کړي نه مړه کیږي.

هغوی عزم وکړ چې مېلمنو ته به په خپلو ځانو برتري ورکوي.

هغوی هوډ وکړ چې ماشومان به اراموي چې ویده شي او مېلمانهٔ خوراک وکړي.

خو چې کوربه خوراک نه کوي مېلمانه به څنګه خوراک وکړي.

ابو طلحه په دې اړه فکر وکړ او یوه لاره یې وموندله.

ام سلیم ته یې وویل :کله چې موږ د خوراک لپاره کېنو ، نو ته ډیوې ته لاړه شه لکه تهٔ چې غواړې ډیوه سموې ، نو تهٔ به ډیوه مړه کړې.

په همدې ډول مېلمانه کېناستل چې خوراک وکړي ابو طلحه هم د خوراک لپاره کېناست.

ام سلیم ډیوې ته لاړه ګواکې هغه غواړي چې ډیوه سمه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ام سلیم ډېره مړه کړه.

## په ترږمۍ کې

ډېره مړه شوه او مېلمنو په تیاره کې په خوړو پیل وکړ.

ابو طلحه به خپل لاس کاسې ته اوږداوه او پورته کاوه به یې خو څه به یې نه را اخیستل.

ابو طلحه به مېلمنو ته دا ښودله چې دی خوراک کوي خو دۀ به خوراک نه کاوۀ.

مېلمنو به د هغه په خوراک کولو کې شک هم نه کاوۀ شک به یې څنګه کاوۀ؟

څوک د ماخوستن ډوډۍ پرېږدي؟

څوک شپه وږې تېروي؟

مېلمنو په اطمنان سره خوراک وکړ او ماړه شول او فکر یې وکړ چې ابو طلحه هم موړ شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو ابو طلحه یوه ګوله هم تر خولې نه وه پورته کړې او ترږمۍ لهٔ ابو طلحه سره مرستندویه وه.

میلمانه پورته شول لاسونه یې پرېمینځل د الله حمد یې ووېل او د کوربه لپاره یې د برکت دعا وکړه.

ابو طلحه هم پورته شو او لاسونه یې پرېمینځل.

میلمنو شپه په مړه خېټه تېره کړه او ابو طلحه شپه وږې تېره کړه.

خو ابو طلحه له نورو تېرو شپو نه په دې شپه ډېر خوشحال وو او دالله ډېر شکر یې ایستهٔ.

## د پیغمبر صلی الله علیه وسلم په مجلس کې

ابو طلحه له خپل عادت سره سم د پیغمبر علیه السلام مجلس ته حاضر شو.

ابو طلحه دومره ډاډه او خوښ وو ګواکې هغه په مړه ګېډه شپه تېره کړې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ابو طلحه ګمان کاوۀ چې د هغې شپې کيسه له رازو څخه يو داسې راز دی چې له ده او د ده له مېرمنې ام سليم (رضي الله عنها ) څخه پرته هيڅوک هم نه دي پرې خبر.

خو الله تعالی په رازونو او پټو خبرو باندې عالم دی ، الله تعالی په دې اړه آيت نازل کړ او ويې فرمايل : ويؤثرون على انفسهم ولو كان بهم خصاصة. ژباړه: او په خپلو ځانونو باندې نورو ته ترجيح ورکوي که څه هم هغوی په خپله محتاج وي.

پيغمبر صلی الله عليه وسلم د کيسې په اړه پوښتنه وکړه ابو طلحه خپله ټوله خبره ورته بيان کړه.

پيغمبر صلی الله عليه وسلم په دې ايثار او عزت باندې خوښ شو او له ابو طلحه نه راضي شو .او کيسه په تاريخ او تفسير کې تل پاتې شوه.

الله تعالی دې له ابو طلحه څخه راضي شي او الله دې ابوطلحه هم راضي کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لړلیک

مهاجر او انصار ........................................................ ۲
د اسلام مېلمانهٔ ........................................................ ۳
د مېلمنو مېلمستیا ........................................................ ۵
ابو طلحه الأنصاري (رضي الله عنه) ........................................ ۷
د ابو طلحه په کور کې ........................................................ ۸
د عزتمن حیله او چل ........................................................ ۱۰
په تربړمۍ کې ........................................................ ۱۲
د پیغمبر صلی الله علیه وسلم په مجلس کې ........................ ۱۳

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**